بسم الله الرحمن الرحيم

د افغانستان اسلامي امارت
د مهاجرينو او راستنېدونكو چارو وزارت
مالي او اداري معينيت
د اطلاعاتو او عامه اړيكو رياست
د اطلاعاتو آمريت

۳۲ گڼه لړم ۱۴۰۳ : شماره (۳۲) عقرب ۱۴۰۳ : لومړی مخ :صفحه اول

اونیزه راستنیدنه
هفته نامه عودت




علم د هر ډول يرغل پر وړاندې له ځانه د دفاع يوازنيې وسيله ده .
الحاج خليل الرحمن حقاني

# ايراني پلاوي د مهاجرينو او راستنېدونكو چارو وزير سره وليدل

الحاج خلیل الرحمن حقانی وزیر امورمهاجرین وعودت کننده گان نکات فوق را پس از ادای نماز در مسجد وزارت با اشاره به ارشادات دین مبین اسلام بیان نموده گفت: جای شکر است که مسلمان هستیم و الله متعال توفیق عبادت را برای ما عطا کرد نماز حکم الله است که ادای آن باعث کامیابی دنیا و آخرت است.

محترم حقانی افزود: در نماز باید خشوع و خضوع داشته باشیم مسایل و آموزش های دینی را با حقوق آن باید فرا گیریم اگر نماز ما صحیح باشد همه امور ما صحیح خواهد شد و به وجه بهتر به پیش خواهد رفت و اگر نباشد همه امور نا تمام باقی خواهد ماند.

وی در ادامه گفت: جهاد اکبر این است که ما احکام اسلامی را بالای خود و خانواده خویش تطبیق کنیم.

محترم حقانی تاکید بیشتربرانجام عبادت واطاعت از فرامین الهی در وقت آن و خدمت صادقانه در وظایف و شفافیت در اجرای امور کرد.



## د سرحدونو، قومونو او قبايلو چارو وزارت مرستيال د مهاجرينو چارو له وزير سره وليدل



د سرحدونو، قومونو او قبايلو چارو وزارت د جرګو او قبايلي چارو د همغږۍ مرستيال مولوي محمد علي جان احمد د مهاجرينو او راستنېدونكو چارو وزارت وزير الحاج خليل الرحمن حقاني سره د ده د كار په دفتر كې وليدل.

په دغه ليدنه كې په سرحدونو كې د مهاجرينو لپاره د ګډو اسانتياوو رامنځته كولو، راستنو شويو مهاجرينو ته د مرستو رسولو، د مجاهدينو په ځينو ستونزو او د قومونو ترمنځ د شخړو د هوارۍ په موخه د ګډې همغږۍ رامنځته كولو په اړه خبرې وشوې.

## جلسه اداری وزارت امور مهاجرین برگزار شد



جلسه اداری هفته وار وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان بر ریاست محترم الحاج خلیل الرحمن حقانی وزیر وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان، با حضور معین مالی و اداری و رو سای مرکزی برگزار شد.

جلسه با تلاوت آیات چند از کلام الله مجید آغاز و در رابطه به هدایات و تعقیب فیصله های جلسه گذشته، تصامیم در مورد تشکیل موجوده مدیریت عمومی مهمانخانه، کمیته کاری دریافت راه حل های دایمی، مشکلات مسوولان امنیتی وزارت و دیدار با سفیر کشور چین در مورد کمک های آنکشور بحث شد.

محترم حقانی به شاملین جلسه هدایات و توصیه های لازم نموده بر اجراآت دقیق، موثر، سریع به مسوولین تاکید کرد.

## د مهاجرينو وزارت مالي او اداري مرستيال د څارنې، حكمونو او فرامينو لوی رياست د پلټنې له رييس سره وليدل



د مهاجرينو وزارت مالي او اداري مرستيال شيخ كليم الرحمن فاني د څارنې، حكمونو او فرامينو لوی رياست د پلټنې رييس مولوي حيدر صدر سره په خپل كاري دفتر كې وليدل.

ښاغلي صدر د خپل مل پلاوي د كارونو په اړه توضيحات وركړل او د مهاجرينو او راستنېدونكو چارو وزارت كې د دغې اداري د پلټنې د پيل په اړه يې له محترم مرستيال سره خبرې وكړې. ښاغلي فاني ياد هيات ته ښه راغلاست ووايه او په چارو كې يې د همكارۍ ډاډ ځرګند كړ.

اونیزه راستنیدنه
هفته نامه عودت



شاروال ولایت فاریاب، با معین مسلکی وزارت امور مهاجرین ملاقات کرد

## تفاهم نامه همکاری در وزارت امور مهاجرین به امضا رسید





دو تفاهم نامه همکاری به ارزش ٦ هزار یورو با موسسه خیریه و انکشافی قلم و٦هزار و٦٠٠ دالر امریکایی با موسسه باز سازی واجتماعی افغان در وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان به امضا رسید

به اساس تفاهم نامه های یاد شده موسسات متذکره مبلغ یاد شده را در بخش توزیع مواد غذایی و آگاهی دهی درمورد تشبثات کوچک و توزیع مواد غذایی در ولایات بلخ وننگرهار به مصرف خواهد رسانید که ١٠٠ خانواده برگشت کننده و بیجاشده در ولایت بلخ و٨٠ خانواده در ولایت ننگرهار از آن مستفید خواهد شد.

تفاهم نامه یاد شده توسط مولوی عبدالرحمن راشد معین مسلکی وزارت امور مهاجرین و نماینده موسسات یاد شده به امضا رسید.

## شاروال ولایت فاریاب، با معین مسلکی وزارت امور مهاجرین ملاقات کرد



ملا گل احمد مبشر شاروال ولایت فاریاب، با الحاج مولوی عبدالرحمن راشد، معین مسلکی وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان ملاقات کرد.
در این دیدار، پیرامون چگونگی فراهم نمودن نمرات رهایشی برای عودت کنندگان و بیجا شدگان داخلی که دارای شفافیت و مؤثریت لازم باشد، صحبت و تبادل نظر گردید.
آقای راشد در زمینه خواهان همکاری شاروال فاریاب شده که از طرف آقای مبشردر قسمت انجام مسوولیت‌هایش با وزارت امور مهاجرین و عودت کنندگان از همکاری اش اطمینان داد.

## د ټولنیز خوندیتوب کلستر له مهاجرینو چارو وزارت سره ګډه ناسته وکړه



د ټولنیز خوندیتوب کلستر مسولینو د مهاجرینو چارو وزارت د پلان او پالیسۍ له رییس ښاغلي محمودالحق احدي سره ناسته وکړه.
په دې ناسته کې د وزارت ځینو مرکزي مسولینو هم ګډون کړی و، چې د مهاجرینو چارو وزارت او د ټولنیز خوندیتوب کلستر ترمنځ د همغږۍ او د مرستو په اړه یکې څرګندونې وشوې.
د ټولنیز کلستر استازو د خپلو کړنو او فعالیتونو په اړه معلومات شریک کړل او ویې ویل، چې دوی غواړي په راتلونکي میلادي کال کې د مهاجرینو چارو وزارت له لوري د بېځایه شویو او راستنېدونکو او اړمنو اړتیاوې هم د خپل کار په پلان کې ونیسي.
د وزارت د پلان او پالیسۍ رییس ښاغلي احدي د دوی د خدمتونو ستاینه وکړه او په اړوندو برخو کې یې د مهاجرینو چارو وزارت د همکارۍ ډاډ ورکړ.
دغه راز په دې ناسته کې پر راتلونکو ناستو او پر لا همغږۍ او همکارۍ ټینګار وشو.

## کندوز کې د راستنو شویو لپاره د ځمکو وېش کمېټې لومړنۍ ناسته وشوه



د عالیقدر امیرالمومنین له فرمان سره سم تېره ورځ په کندز ولایت کې د راستنو شویو لپاره د ځمکو ویش کمېټې لومړنۍ ناسته وشوه.
په دغه ناسته کې د مهاجرینو، کرنې او مالدارۍ، ښاروالۍ کندز، د کلیو پراختیا، چاپیریال ساتنې، سندیزې حوزې او کدستر او د استخباراتو ریاستونو استازو ګډون کړی و، د کور او ښار جوړولو رییس مولوي محمد رمضان کلیم په مشرۍ جوړه شوې وه.
د کندز ولایت مهاجرینو رییس یاد فرمان ولوست او وروسته بیا د راستنېدنې او مېشتېدنې امر د مهاجرینو ښارګوټو او ستونزو په اړه له ناستې سره معلومات شریک کړل او پرېکړه وشوه، چې د طرزالعمل د لا ښه پلي کېدو په موخه به د کندز له والي سره د همغږۍ ناسته کوي، دغه ټیم به د ښارګوټو څخه له نږدې لیدنه کوي، شته ستونزې به له نږدې ګوري او په اړه به یې لازم تدابیر ونیسي او د راتلونکي لپاره به د همغږۍ په موخه د واټساپ ګروپ جوړوي.

## تیم تخنیکی سروی وزارت شهر سازی و مسکن با رئیس مهاجرین ولایت جوزجان ملاقات نمود



تیم تخنیکی سروی وزارت شهر سازی و مسکن با ملا امان الله طلحه رئیس امور مهاجرین وعودت‌کننده‌گان ولایت جوزجان در دفتر کاری شان ملاقات نمودند.

در این دیدار تیم اعزامی وزارت شهر سازی و مسکن هدف سفر شانرا بمنظور توپوگرافی و ترتیب پلان تفصیلی شهرک مهاجرین بیجاشده گان ولسوالی های درزاب و قوش تپه ولایت جوزجان میباشد بیان داشته خواهان همکاری ریاست مهاجرین در زمینه شد.

رئیس مهاجرین ولایت جوزجان تشریف آوری تیم تخنیکی یاد شده راخیر مقدم گفته وعده هر نوع همکاری در قسمت کاری شان را به آنان سپرد.

بسم الله الرحمن الرحیم
د افغانستان اسلامي امارت
د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت
مالي او اداري معینیت
د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست
د اطلاعاتو آمریت

۳۲ گنه لړم ۱۴۰۳ : شماره (۳۲) عقرب ۱۴۰۳ : دریېم مخ :صفحه سوم

اوونیزه راستنېدنه
هفته نامه عودت



بغلان کې یو لومړنی ښوونځی ګټې اخیستنې ته وسپارل شو

## په اسلام اباد کې د مهاجرینو اتشه له افغان مهاجرینو سره ولیدل

د پاکستان په اسلام اباد ښار کې د افغان مهاجرینو اتشه په جمو او کشمیر کې د مېشتو افغان مهاجرینو له استازي شیرعلي خان شهزاد سره وکتل.

د مهاجرینو اتشه په ازاد کشمیر کې د افغان مهاجرینو، غوښتنې او ستونزې واورېدې او د مهاجرینو استازي ته یې په دې اړه لازمي سپارښتنې وکړې.

ښاغلي شېرعلي د سروې د پېل او د بې اسنادو مهاجرینو د شړلو په اړه د سیمه ییزې ادارې د وروستي پریکړې په اړه معلومات ورکړل او هغه تدابیر یې، چې د مهاجرینو اتشې دفتر له لوري په مستقیم مشارکت کې د مهاجرینو د جبري شړلو د مخنیوي په اړه نیول شوي وو؛ معلومات ورکړل او دغه تدابیر یې ګټور وبلل، چې امنیتي بنسټونو دا موضوع تر امر ثاني پورې وځنډوله.

نوموړي همداراز د اتشه دفتر له کړنو ستاینه وکړه او په دې برخه کې د لا زیاتو همکاریو غوښتونکی شو.

د مهاجرینو اتشه په ازاد کشمیر کې د امنیتي بنسټونو وروستۍ پریکړې په اړه معلومات شریک کړل او په دې برخه کې یې لازمي او قانوني سپارښتنې وکړې او زیاته یې کړه، چې د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو عالي کمېشنرۍ د کورنیو د تصدیق برنامه پیل کړې او په دې اړه یې ټولو مهاجرینو مېشتو سیمو ته یې اطلاع رسولې، چې له دې موقع څخه ګټه پورته کړي.

په اخیر کې یې د مهاجرینو اتشه له کړنو ستاینه وکړه او هیله یې وښوده، چې دوی به د نورو استازو سره په همغږۍ د مهاجرینو د ستونزو د حل لپاره لا زیاتې هڅې وکړي.

## نشست کمیته استقرار پایدار و ادغام مجدد ولایتی در ولایت بدخشان برگزار شد



نشست کمیته استقرار پایدار و ادغام مجدد ولایتی عودت کننده گان و بیجا شده گان، در ولایت بدخشان به ریاست قاری امین‌الله طیب معاون والی و با حضور، روسای ادارات دولتی ومسولین موسسات ملی و بین المللی برگزارشد.

معاون والی از پیشرفت در کار ها استقبال و آن را نتیجه زحمات مسوولان دانسته برگزاری نشست مذکور را جهت رسیدگی به وضعیت مهاجرین و بیجا شده گان مهم دانسته و تأکید کرد که این نشست به صورت دوام دار برگزار گردد تا بتوانیم به مشکلات و چالش‌های بیجاشدگان داخلی و عودت کننده گان را تا حد توان حل نماییم.

وی خواهان همکاری بیشتر نهاد های همکار قبل از فرا رسیدن فصل سرما شد.

## جوزجان کې دوه شنې خونې ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې



د جوزجان ولایت د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو ریاست د راپور له مخې، تېره ورځ د دغه ولایت شبرغان ښار اړوند مهاجرینو په ښارګوټي کې د ۲۰ تنو ښځو لپاره د ټولو کرنیزو وسایلو سره دوه شنې خونې جوړې او له دې څخه ګټې اخیستونکو ته وسپارل شوې.

دغه شنې خونې د APWDO موسسې له لوري ۴۸ زره افغانیو په ارزښت جوړې شوې دي.

## اتشه مهاجرین افغان با مسوولان سفارت افغانستان مقیم ایران، با خانواده یک تن افغان مهاجر که خودکشی کرده بود، ابراز تسلیت نمودند



اتشه مهاجرین افغان مقیم شهر تهران کشورایران با جمعی ازمسوولان سفارت امارت اسلامی مقیم آنکشور، با آقای اصغر خاوری، پدر مرحومه آرزو خاوری که چندی قبل دست به خودکشی زده بود مراتب تسلیت و همدردی خویش را اظهار نمودند.

این دیدار که درمقرسفارت افغانستان درآنکشور صورت گرفت، مسوولین سفارت و اتشه مهاجرین مراتب تسلیت و همدردی عمیق خود را در پیوند با این رویداد اظهار داشتند و مساعدت مالی که از طرف سفارت تهیه شده بود به خانواده مرحومه اهدا، وعده سپردند که در رابطه با این موضوع وبا هماهنگی ادارات ذیربط کشور میزبان هرنوع حمایت و پیگیری لازم را انجام خواهند داد.

آقای اصغر خاوری پدرمرحومه ازمسئولین سفارت وهمچنین مسئولین کشور میزبان که در این مدت باایشان ابراز همدردی نمودند قدردانی نموده افزود : از طریق مراجع قضایی کشور میزبان دوسیه قضایی تشکیل داده شده است و خواهان رسیدگی به این موضوع است.

گفتنی است که مرحومه آرزو خاوری متعلم صنف نهم مدرسه کوثر درتهران چند روز قبل دست به خودکشی زده بود.

## بغلان کې یو لومړنی ښوونځی ګټې اخیستنې ته وسپارل شو



د بغلان ولایت د مرکزي بغلان ولسوالۍ د مصلحت تپې په سیمه کې د سولې په ښارګوټي کې یو لومړنی ښوونځی د لړم پر نهه ویشتمه د دغه ولایت د والي او سیمه ییزو چارواکو او د همکارو بنسټونو په شتون کې ګټې اخیستنې ته وسپارل شو.

په همدې مناسبت جوړه شوې غونډه کې د بغلان والي مولوي عبدالرحمن حقاني خپلې عالمانه او ارزښتمنې خبرې او لارښوونې وکړې، ورپسې د بغلان د مهاجرینو چارو رییس الحاج ابراهیم عمري د دې ښوونځي د جوړونې په اړه لنډ معلومات ورکړل.

د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو عالي کمېشنرۍ استازي د دغه لومړني ښوونځي د جوړېدو د پروژې د جزیاتو په اړه هر اړخیز معلومات وړاندې کړل.

په پای کې د مهاجرینو ښارګوټي اوسېدونکو د بغلان د مهاجرینو ریاست فعالیتونه، لاسته راوړنې او خدمتونه د ستاینې وړ وبلل او د ښوونځي په جوړېدو یې خوښي څرګنده کړه او ویې ویل چې د دغه ښارګوټي او ګاونډو کلیو د اوسېدونکو یوه تر ټولو مهمه اړتیا وه.

بسم الله الرحمن الرحیم
د افغانستان اسلامي امارت
د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت
مالي او اداري معینیت
د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست
د اطلاعاتو آمریت

Ministry of Refugee and Repatriation
د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت ۱۳۸۱

۳۲ گڼه لړم ۱۴۰۳ : شماره (۳۲) عقرب ۱۴۰۳ : څلورم مخ: صفحه چهارم

اونیزه راستنېدنه
هفته نامه عودت



لغمان کې ۱۳۰ کورنیو سره مرسته وشوه

## در ماه که گذشت بیش از ۹ هزار خانواده در ولایات کشور کمک شد



در جریان یک ماه(عقرب) گذشته بیش از ۹ هزار خانواده بیجاشده و متضرر ناشی از حوادث طبیعی در ۲۳ ولایت ازطریق واحد های دومی وزارت امور مهاجرین مساعدت شدند.

طبق گزارشات واصله واحد های دومی وزارت امور مهاجرین در ولایات فاریاب، غزنی، غور، سرپل، میدان وردک، ننگرهار، پکتیکا، پکتیا، تخار، لغمان، بدخشان، کندز، هلمند، جوزجان، بادغیس فراه، سمنگان، بغلان، نیمروز ،پروان؛ دایکندی، کنر و نورستان ۹ هزارو ۵۱۷ خانواده بیجاشده، برگشت کننده، بی بضاعت، معلول، متضرر و معیوب را با همکاری شماری از سازمانهای مددرسانی بین المللی، مساعدت نموده اند.

منابع اضافه نموده اند که مساعدتهای توزیع شده، شامل بسته های نقدی، صحی، البسه، خیمه ، تانکر آب، و مواد خوراکی بود که درحضور داشت نماینده های نهاد های کمک کننده توزیع شد.

## لغمان کې ۱۳۰ کورنیو سره مرسته وشوه



د لغمان ولایت د الینگار او قرغیو ولسوالیو اړوند په چینچار پل، تینگور، سنگره، عزت خېل، سرخکان کلي او د سرخکانو د مهاجرینو په ښارگوټي کې پرون د لړم پر دیرشمه د دغه ولایت د مهاجرینو چارو ریاست په هلو ځلو او د AHF موسسې په مالي همکارۍ راستنو شویو، بېځایه شویو او بېوزلو ۱۳۰ کورنیو ته د تشنابونو د ساختماني چارو توکي ووېشل شول.

## تېره اونۍ
## د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت له لوري:

۱ـ په کونړ ولایت کې ۱۰۰ کورنیو سره د خیمو مرسته وشوه.

۲ـ په ننگرهار ولایت کې ٦۹ کورنیو ته د سرپنا جوړولو او رغولو په موخه نغدي مرسته ووېشل شوه.

۳ـ له ترکیې هېواد څخه د ۳۲۵ جبري راستنېدونکو مهاجرینو ښه راغلاست او هرکلی وشو.

د دغو راستنېدونکو مهاجرینو د ښه راغلاست لپاره د کابل هوایي ډگر ته د وزارت د مسلکي مرستیال مولوي عبدالرحمن راشد په مشرۍ یو پلاوی ورغی او د راستنېدونکو مهاجرینو هرکلی یې وکړ.

۴ـ په پکتیا کې له ۱۵ کورنیو سره نغدي مرسته وشوه.

٦ـ په پکتیکا کې ۲۰۰ کورنیو ته د سرپنا جوړولو په موخه مرسته ووېشل شوه.

۷ـ په میدان وردگو کې ۱۵ کورنیو ته مرسته ورکړل شوه.

۸ـ په ننگرهار ولایت کې ۷۰ تنو راستنو شویو ته د کار زمینه برابره شوه.

۹ـ په غور ولایت کې د پشته گاو په نوي ښارگوټي کې له بېځایه شویو سره ۱۵ ټانکره د څښاک اوبو مرسته وشوه.

۱۰ـ د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت په رهبرۍ او د CCCM د تخنیکي ټیم په همکارۍ خپلو سیمو ته د ۵ زره داخلي بېځایه شویو کورنیو د لېږد لپاره د ثبت او بایومیټریک لړۍ پیل شوه.

په دې اړه جوړو شویو مراسمو کې د مهاجرینو وزیر الحاج خلیل الرحمن حقاني وویل، چې دغه لړۍ په هېواد کې د تامین شوي امنیت له برکته پیل شوه او په دغو کورنیو کې ډېرې یې د کندوز ولایت دي.

۱۱ـ په دایکندي ولایت کې ۴۳ ارمنو کورنیو سره نغدي مرسته وشوه.

۱۲ـ په سرپل ولایت کې ۲۰ کورنیو ته د سرپنا جوړولو په موخه نغدي مرسته ووېشل شوه.

۱۳ـ په لغمان ولایت کې ۸۰۰ کورنیو ته روغتیایي کڅوړې ورکړل شوې.

۱۴ـ په میدان وردگ ولایت کې ۳۵ ارمنو کورنیو ته نغدي مرسته ووېشل شوه.

۱۵ـ او د امر بالمعروف او نهې عن المنکر وزارت توشیح شوی قانون د دغه وزارت د پالیسي او مسلکي چارو مرستیال شیخ الحدیث مولوي محمد فقیر له لوري د مهاجرینو چارو وزارت کارکوونکو ته تشریح شو.

## تېره اونۍ

د مهاجرینو چارو وزارت د وزیر او نورو جگپوړو مسولینو ناستې او کتنې

۱ـ د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزیر الحاج خلیل الرحمن حقاني د ایران هېواد د عدلیې وزارت د بشري حقونو او نړیوالو چارو مرستیال او د افغان بندیانو د لېږد کمېټې مشر ښاغلي عسکر جلالیان په مشرۍ د دغه هېواد پلاوي سره د خپل کار په دفتر کې وکتل.

په دې کتنه کې د مهاجرینو لپاره د اسانتیاوو د رامنځته کېدو په موخه پر یوې گډې کمېټې او یو گډ میکانیزم جوړولو خبرې وشوې او دغه راز له ناقانوني کډوالو سره هم پر ښه چلند ټینگار وشو.

۲ـ د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت ښاغلي وزیر الحاج خلیل الرحمن حقاني د لغمان ولایت د مهاجرینو چارو رییس غلام الرحمن بلال سره د خپل کار په دفتر کې وکتل.

په دې کتنه کې په لغمان کې د راستنېدونکو مهاجرینو د ستونزو په اړه خبرې وشوې او ښاغلي وزیر د غوره خدمتونو په اړه د سپارښتو سربېره په چارو کې پر روڼتیا او رښتینولۍ ټینگار وکړ.

۳ـ د مهاجرینو چارو وزارت مسلکي مرستیال مولوي عبدالرحمن راشد د اوسلو موسسې له رییس عبدالسلام احمدي سره د خپل کار په دفتر کې وکتل.

په دې کتنه کې دغې موسسې ته د خدمتونو وړاندې کولو په موخه د مستحقو کسانو په پېژندنه کې د همکارۍ ډاډ ورکړل شو.

۴ـ د افغان مهاجرینو د ستونزو په اړه د ایران په تهران کې د اسلامي امارت د سفارت د سرپرست مولوي فضل محمد حقاني په مشرۍ، د افغان مهاجرینو چارو اتشې سرپرست عبدالباسط امامي او د قونسل ښاغلي میر انور غفاري په شتون کې د ایران د کورنیو چارو وزارت له سلاکار او د بهرنیو مهاجرینو او اتباعو چارو د مرکز له رییس نادر یار احمدي سره گډه ناسته وشوه.

په دې ناسته کې په کوربه هېواد کې د مهاجرینو د قانوني شتون، د مهاجرینو پخپله خوښه راستنېدو او پر نورو ورته موضوعاتو خبرې وشوې.

دغه راز پرېکړه وشوه، چې ډېر ژر به د سفارت او د اتباعو اداري ترمنځ د کارپوهنې یوه کمېټه جوړه شي.

۵ـ او په تېره اونۍ کې د فاریاب ولایت د بېځایه شویو او راستنېدونکو د تلپاتې بیا مېشتېدنې کمېټې ناسته هم وشوه، چې د داخلي بېځایه شویو او راستنېدونکو د شمېر او ارقامو په اړه معلومات پکې وړاندې شول.

په دې ناسته کې له مرستندویو بنسټونو څخه له گاونډیو هېوادونو د جبري راستنېدونکو لپاره د سرپنا، د څښاک اوبو، خوراکي او غیرخوراکي توکو په برخو کې د مرستې غوښتنه هم څرگنده شوه